# دامیرِ اهلِ سنت خبرې

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا رساله د اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د حکمت نه ډکو خبرو باندې مشتملو مضامینو نه جوړه کړے شوې ده.

## د امیرِ اَهلِسُنَّت خبرې

دعائے جانشینِ امیرِ اهلِسنَّت!: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "اَمیرِ اَهلِسُنَّت خبرې" اولولي که یا واوري، هغوئي د خپلو نیکانو بندګانو په لار روان کړې.

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دُرُود شریف فضیلت

یو صوفي بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي چې ما مِسْطَاح نومې یو کَس د مرګ نه پس خوب کښې اولیدو او تپوس مې تري اوکړو: " الله پاک ستا سره څه مُعامله اوکړه؟" اوئې وئیل: "الله کریم زه اوبخښلم." ما چې تري د وجې پوښتنه اوکړه نو اوئې وئیل: " یو ځل ما د حدیث پاک یو لوئي عالم ته عرض اوکړو چې ماته یو حدیثِ پاک د سند سره اولیکلئ. د حدیث پاک د لیکلو په وخت چې کله د سَیِّد عالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک راغلے نو مُحَدِّث صاحب درودِ پاک اولوستلو، ما چې هغه اولیدلو نو ما هم

په اوچت آواز درودِ پاک اولوستلو، چې کله هلته ناستو خلقو واوریدو نو هغوئي هم درود اولوستلو،چې د هغې په برکت  الله پاک مونږ ټول اوبخښلو.‘‘(القربةلابن بشکوال، حدیث:63، ص66)

## صَــلُّــوْا عَــلَی الْــحَــبِـیْــب!صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## لوئ خبرې مه کوئ

از: امیرِاهلسنَّت عَلَّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطَّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځوي عبد المَلِک ته د نصیحت نه ډک خط اولیږلو کښې یو نصیحت دا هم وو: ”د خپلو خبرو په ذریعه د فخر کولو یعني د لوئ خبرو او ځان ښودلو نه بچ اوسه.“(حلیة الاولیاء،310/5)

اے عاشقانِ رسول!مونږه چې کوم ښه کار هم کوو هغه صرف د الله پاک په رحمت او فضل کیږي، په دې کښې زمونږ هیڅ کمال نه وي، خو بعضې خلق په مختلفو موقعو باندې د فخر خبرې کوي او د خپل ځان په باره کښې په اوچتو اوچتو وئیلو نه ستړي کیږي.مثلاً ”مونږه چې د دین کوم کار کړے دے داسې چرته هم چا نه دے کړے، ما چې کوم کتاب لیکلے دے داسې کتاب چا هم نه دے لیکلے یا داسې کتاب خو دې څوک اولیکي که نه، زما د بیان په دوران کښې خو یو ګس هم نه ځي، د هغه د

کار زمونږ د کار په مخکښې هڅو څه حیثیت نشته! زما د علم په وړاندې د فلانکي د علم څه حیثیت دے؟ هغه خو اوس ماشوم دے، مونږه خو د دې میدان زاړه لوبغاړي يو وغيره" داسې ډېرې غټې غټې خبرې عام طور خلق کوي کومې چې دوئي ته کول نه دي پکار، ياد لرئ د تکبر مختلف اسباب او انداز وغيره حُجَّةُ الْاِسلام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کتاب "احياء العلوم" کښې بيان کړے دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهد ژبې په ذريعه د تکبر لاندې ليکي: "مثلاً يو عبادت کوونکے د فخر په طور او د نورو عبادت کوونکو په باره کښې خبرې کوي او د هغوئي عيبونه بيانوي او وائي چې فلانکے عبادت کوونکے څوک دے؟ د هغه عمل څه دے؟ هغه ته بزرګي د کوم ځائ نه ميلاؤ شوه؟ ما د دومره مودې نه نفل روژه نه ده پرېښودې، نه د عبادت په وجه د شپې اوده شوم، هره ورځ يو ځل د قرآنِ کريم ختم کووم او فلانکے ګَس د پيشمنې پورې اوده وي او د قرآنِ پاک تلاوت هم زيات نه کوي. فلانکي چې ماته تکليف رارسول غوښتل نو د هغه ځوئ مړ شو يا ئې مال لُوټ شو يا بيمار شو وغيره، داسې په چل چل کښې د خپلو کراماتو دعوٰی هم کوي، داسې يو عالم په فخر سره وائي: زه د مختلفو فُنُونو جامع يم، د حقائقو نه خبر يم، ما په مشائِخ کِرامو کښې فلانکے فلانکے ليدلے دے، څکه ته څوک ئې؟ ستا څه فضيلت دے؟ تا د چا سره ملاقات کړے دے او د چا نه دې حديث اوريدلے دے؟ دا ټولې خبرې دےهغه څکه کوي چې مخامخ ګَس کمتر او ځان اوچت حساب کړي." (احياء

العلوم،430/3ملخصا)

د بعضې خلقو عادت وي چې ” هغوئي داسې وائي چې زما مرید دے، زما شاګرد دے.“ ماته (يعني سګِ مدينه ته) دا هم ښه نه ښکاري. آؤ! د ضرورت په وخت وئيل بيله خبره ده او بيا چې ډېره رسيدلې هستي وي لکه څنګه چې زما مرشد کريم غوثِ پاک حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ چې هغوئي فرمائي: ”مُرِيۡدِیۡ لَاتَخَفۡ اَللّٰهُ رَبِّیۡ يعني زما مريده مه ويرېږه، الله پاک زما رب دے.“ (مدنی پنج سورہ،قصیدۂ غوثیہ، ص264)نو دا د هغه سره ښائي، د هغوئي داسې خبره کول څه معيوبه نه ده. بعضې خلق چاته دعا کوي او وائي ” زه بچيه! زه ځويه! زه وروره! زما دعا ستا سره ده،“ ماته خو داسې وئيل هم ښه نه ښکاري.اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زما د داسې وئيلو عادت نه دے. که چاته دعا کوئ هم نو داسې وئيل پکار دي الله کريم دې آساني اوکړي، الله دې خير کړي، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! هر څه به ټيک شي. البته دا وئيل چې ”زما د مور دعا زما سره ده“ دا بيل څيز دے، دې کښې څه باک نشته، الله کريم دې مونږه د نورو ګناهونو سره سره د ژبې د آفتونو نه هم محفوظ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(ماہنامہ فیضانِ مدینہ ، فروری2022) [1]

323

1...دا مضمون په 4 رَجَبُ المُرجب 1441ھ مطابق 28 فرورئ 2020ء د ماسخوتن د لَمانځه نه پس د شوې مذاکرې په مرسته مدد تيار کړے شو او د اميرِ اهلِسنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د مشورې نه پس وړاندے کړے شوے دے۔

## زه د اخبار لوستلو نه ولې ځان ساتم؟

یو ځل ما له چا یو پمفلټ راکړو په هغې کښې په چې چا پسې عیبونه ترلے شوي وو. ما هغه پمفلټ د لوستلو نه بغیر په جیب کښې کېښودو او داسې غور مې اوکړو چې که چرې زه دا پمفلټ اولولم نو آیا څه ګناه خو به نه وي؟ بیا مې د پمفلټ راکوونکي پام دې طرف ته را اوګرځولو او د هغه نه مې پوښتنه اوکړه چې د دې په لوستلو به څومره نیکۍ میلاؤ شي؟ هغه جواب راکړو: یوه نیکي به هم نه میلاویږي. ما اووئیل چې د چا په باره کښې دا پمفلټ دے که هغه ته دا پته اولګیده چې تا ماته دا پمفلټ راکړو او ما دا اولوستلو نو هغه به خوشحالیږي یا خفه کیږي؟ هغه جواب راکړو: خفه کیږي. ما اووئیل چې د کوم پمفلټ په لوستلو کښې صرف نقصان وي نو هغه هډو لوستل نه دي پکار، ځکه ما هغه پمفلټ ضائع کړو.اے **عاشقانِ رسول**!څنګه چې په یو مسلمان کښې څه عیبونه وي او پشي شا هغه بیانول غیبت دے او هغه کښې که چرې داسې خامیاني نه وي نو بیا ورته بهتان وئیلے شي، داسې ئې د چاپ کولو مُعامله هم ده. بغیر د شَرعي اجازت نه د مسلمان سپکاوے حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، که هغه په ژبه وئیل وي، د اخبار په ذریعه وي که د پمفلټ په شکل کښې وي. کوم احکام په ژبه د وئیلو دي هغه په قلم د لیکلو هم دي. څنګه چې اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِ سنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ عَلَیه فرمائي:**اَلْقَلَمُ اَحَدُ اللِّسَانَیْن**(قلم هم یوه ژبه ده.) کوم چې په

ژبه د وئيلو احکام دي هغه په قلم هم دي.(فتاویٰ رضویه، 607/14) څکه داسې اخبارونه، اشتهارونه او پمفلټس کوم چې د مسلمانانو په عُيُوبو او نَقائصو مشتمل وي د هغې د لوستلو او اوريدو نه ځان بچ کړئ. زما د معلوماتو مطابق نن سبا اخبارونه د بے پرده زنانؤ د تصويرونو او د ګناهونو د ليکلو نه ډک وي. نن سبا خو ډيره ګرانه ده چې داسې يو اخبار وي چې په هغې کښې د مسلمان د عزَّت **تحفُّظ**وي، کله په يو مسلمان وزير اعظم تنقيد کيږي نو کله د صَدر، کله د وزيرِ اعلٰـی او کله د ګورنر، اَلغرض که سياستدان وي او که عام مسلمان،په اخبارونو کښې عام طور د ټولو عزّت تار تار کيږي، خاص طور د اليکشن په ورځو کښې بعضې خلق د تهمتونو او غيبتونو ډک بيانونه ورکوي، اخبارونو کښې ئې چاپ کوي او بنهپه يو بل پورې خبرې کوي.په داسې حالت کښې ځان د ګناهونو نه بچ کول ډير ګران وي. په دې وجه زه د اخبارونو، غير شرعي اشتهارونو او د ګناهونو ډک پمفلټس لوستلو نه ځان ساتم. آؤ! که د چا د بدو په وجه بل چا ته د نقصان رسيدو انديښنه وي نو په شرعي اجازت او په ښه ښه نيتونو سره خلق د دې د نقصان نه د بچ کولو د پاره په خبرو اترو يا ليکلو وغيره کښې د ضرورت په طور صرف د هغه خرابئ ذکر کيدے شي. اے کاش! چې هر مسلمان په خپلو عيبونو نظر واچوي، د نورو د عيوبو بيانولو يا چاپ کولو په ځائے د هغې د پټولو کوشش اوکړي او د هغوئي د ځان، مال او د عزّت محافظ جوړ شي.

الله پاک دې مونږ له د نورو په عیبونو د نظر ساتلو په ځائے د خپلو عیبونو د لټولو او د هغې د لرې کولو توفیق رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(ماہنامہ فیضان مدینہ ربیع الآخر1442) (1)

## د عطّاريانو د پاره زيرے

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم ،اَمَّا بَعْد

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د کله نه چې زه په ښه بد پوهه شوے يم، په خپل زړه کښې مې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مینه محبت محسوس کړے دے.ما ته عشقِ رسول د غوثِ پاک او اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِما په برکت حاصل شوے دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ما دا خاص فیضان دے چې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره، د انبیاء کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام سره، د ټولو صحابۂ کرامو سره، د ټولو اهلِ بیتو سره خاص طور د کربلا د شهیدانو سره مې ډیره مینه ده.رضیاللّٰهعنهماجمعین، د اولیاءِ کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم سره مې ډیره مینه ده،خاص طور د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سره ډیر عقیدت لرم، د الله پاک په رحمت سره د ساداتِ کرامو احترام په خپل هر رګ کښې لرم او زه طمع لرم چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! څوک زما په ذريعه د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ مريد شي، عطاري جوړ شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! هغه به چرې هم، چرې هم، چرې هم د خوږ آقا

1.. دا مضمون رساله: د فیضانِ مدني مذاکرې (قسط:33) "بُرائی کا بدلہ اچھائی کے ساتھ دیجیے"په مرسته تیار کړے شواو اَمیرِ اَھلِسُنَّتدَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه د مشورې نه پس وړاندے کولے شي.

محمدِ مصطفٰيصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، د ټولو انبیاء کرامو عَلَیْھِمُ السَّلَام، د ټولو اهلِ بیتو او د مولا علي مشکل کُشا ، شیرِ خدا او حسنینِ کریمینو او ټولو صحابهٔ کرامو او د حضرت امیر معاویه رضی اللہ عنھم اجمعین، د دې پاکو هستیانو سره غداري نشي کولے بلکه چې څوک د بلې جامع شرائط شیخ مُرید وي او زما په سلسله کښې طالب وي،اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم! هغه به هم د دې پاکو هستیانو چرې هم باغي نه جوړیږي.

دعائے عطار: یا اللہ پاکه! زما د خبرو لاج اوساته، زما مولٰی په 25 رمضان المُبارک 1439 هجرۍ ما په ښه ګمان دا څه خبرې د نګرانِ شوړی حاجي عمران عطاري په غوښتنه عرض کړې دي، اے اللهٔ! زما لاج اوساته چې هم داسې اوشي، مونږ ټول عمر د انبیاءِ کرامو عَلَیْھِمُ السَّلَام، د صحابهٔ کرامو عَلَیْھِمُ الرِّضْوَان، د اولیاء کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْھِم په مینه ژوندي یو، د حضرت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه خبرې اوکړې په دې ډِزمونږه خاتمه په ایمان سره وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(ماہنامه فیضان مدینه ذوالقعدة الحرام 1439)

## امیرِ اھلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ کتابونه څنګه لیکي؟

یوه مدني مذاکره کښې د سِډني آسټریلیا نه یو ماشوم ”عبدُ الله عطاري“ د سوشل میډیا په ذریعه د شیخِ طریقت، امیرِ اھلِسنّت حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّاري قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ نه پوښتنه اوکړه چې تاسو د (600) مخونو کتاب ”فیضانِ نَماز“ لیکلو نو آیا د دې په لیکلو ستاسو لاسونو درد نه کولو؟

امیرِ اھلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ د دې په جواب کښې چې څه اوفرمائیل د هغې خلاصه دا ده چې عام طور یوه کتاب په یوه ګنټه یا یوه ورځ کښې نه لیکلے کیږي او نه پرله پسې د لیکلو ترکیب وي، اوس خو د کمپوزنګ دور دے، ما له د کتاب کمپوزنګ نه راځي، د دعوتِ اسلامي د ”مجلس المدینَۃُ الۡعِلۡمِیَّه“ له خوا ډیر مواد کمپوز شوي هم میلاویږي، څه د مشورې ورکولو سره راغوښتے هم شي، څه د کتابونو نه د ویستلو سره کمپوز کول هم وي، ځائے په ځائے قلم هم چلول وي، د کار په وخت کښې وقفه هم راځي ځکه په لاسونو کښې درد ضروري نه دے خو دا ځل زما سره داسې معامله اوشوه، بعضې وخت د قلم نیولو سره زما د لاس ګوتې سترې کیدې، نو ما د حکیم صاحب ښودلے شوے علاج اوکړو، د هغې سره اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زما ګوتې ټیک شوې، اوس هم څه نا څه د لیکلو کار کووم خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د تیرو څو ورځو راسې زما ګوتې سترې نه دي، خو

ظاهره ده چې د کار کولو سره کله نا کله انسان ته تکلیف هم کیدے شي، لیکل یو دماغي کار هم دے، د لیکلو په وخت کله دماغ هم ستړي کیږي.

اے عاشقانِ رسول! خوک چې زما سره مینه کوي، تاسو غور اوکړئ چې کتابونه څومره په محنت سره لیکلے کیږي. خو تاسو کښې به ډیر داسې هم وي چې د **مکتبةُ المدینه** د کتابونو او رسالو لوستل خو لرې خبره ده چې پرانزي او ګوري به ئې هم نه! تاسو ته په ما باندې په دې معنو کښې رحم کول او زما سره خواه خوږي کول پکار ده، چې زه د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره هم ستاسو د پاره لیکم، چې زما مدني ځامن او لونړه دا کتابونه اولولي او د خپل آخرت د ښه کولو سامان جوړ کړي. الله پاک دې د ښه ښه نیتونو سره د **مکتبةُ المدینه** نه د چاپ شوو کتابونو او رسالو د لوستلو توفیق رانصیب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(مدنی مذاکرہ، 23جمادَی الاُولیٰ1441ہجری)(ماہنامہ فیضانِ مدینہ شوال المکرم 1441)

## د کتاب لیکلو احتیاطونه

د تصنیف او تالیف په ذریعه د دین پیغام خلقو ته رسول یوه ښخوانئ طریقه ده، دا چې څومره اهم کار دے دومره ګران هم دے. د لیکلو کار کښې د قسما قسم احتیاطونو سخت ضرورت دے.په دې باره کښې څه خبرې عرض کووم:

❀ دیني کتاب، رساله یا مضمون لیکلو کښې همیشه د الله پاک رضا مخےته ساتل پکار ده، د نوم ګټلو او مشهورتیا خواهش نه دي ساتل پکار. د خپل ځان د مینې نه د بچ کولو سره په کتاب خپل نوم لیکل جائز دي خو اصلي مقصد د الله پاک رضا حاصلول پکار ده. د لیکلو په وخت دا ویره پکار ده چې ما څه لیکلي دي چرته د دې په وجه په آخرت کښې ګیر نه شم. د لیکلو معامله کښې د اخلاص معامله هم ډیره نازکه ده، نفس او شیطان انسان په مختلفو طریقو ریاکارۍ او د خپلې واه واه شوق کښې د اخته کولو کوشش کښې وي.❀ یاد ساتئ! د آیاتونو او حدیثونو مبارکو د خپلې خوښې تفسیر او شرح کول حرام دي، صرف د مفسرینو او شارحینو رائے دې نقل کړے شي. داسې شرعي مسئلو لیکلو کښې هم د ډیر احتیاط ضرورت دے چې چرې د یوې ګناهِ جاریه شکل جوړ نه شي.❀ د بعضې مصنفینو [یعني لیکوالو] په لیکلو کښې شرعي غلطیانې موجودې وي، تقریباً شل کاله مخکښې د دې خبرو خیال ساتلو سره غالباً په کال 2000 ء کښې مونږه مجلس تفتیشِ کتب و رسائل جوړ کړے وو چې دغه شان لیکلوال د خپلو کتابونو شرعي تفتیش اوکړي.❀ خپلو لیکلو کښې د غیر محتاط الفاظو انتخاب، د زړه د جذبو تائید نه لرلو باوجود د عاجزۍ جملےلیکل او د دروغو مبالغےنه کار اخستل په آخرت کښې د ګیریدو سبب جوړیدے شي. زمونږه بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د الفاظو

استعمال کښې ډېر احتیاط کولو، دِاِحیاءُ الْعُلوم دریم جلد کښې دي: حضرت میمون بن ابو شبیب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه ناستووم خط مې لیکلو چې په یو ټکي اودریدم چې که چرې دا ټکے لیکم نو خط به ښائسته شي خو د دروغو نه به بچ نه شم. بیا ما د هغه ټکي پرېښودو اراده اوکړه چې بے شکه زما خط دې ښکلے نه وي خو زه به دا ټکے نه لیکم.(احیاء العلوم، 169/3)دا خو زمونږ د بزرګانِ دین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په لیکلو کښې احتیاطونه وو خو نن سبا بعضې مضامینو او کالمُونوکښې د رښتیاؤ او دروغو پرواه نه کیږي، د داسې لیکلو نه دا ښه ده چې انسان قلم راخِستل پرېږدي.❀ نعت شریف، منقبت او نظم وغیره لیکلو کښې د نور ډېر اِحتیاط حاجت دے ځکه چې دې کښې د کلام وزن برابر ساتلو، د ردیف او قافیےخیال ساتلو د پاره څو څو ځله غیر شرعي یا غیر محتاط شعرونه هم جوړولے کیږي، ځکه سلامتیا او خیر په دې کښې دے چې کوم مضبوط عالِمِ دین، د شاعرئ په فن کښې پوهه نه لري او د الفاظو ذخیره نه لري نو  هغه ته د حمد او نعت وغیره د منظوم کلام جوړولو کوشش کول نه دي پکار. دې میدان کښې لوئي لوئي شاعران کومو کښې چې نعت ګویا شاعران هم شامل دي. هغوي ډېرې خوړلې دي او داسې داسې شرعي غلطیاني ئې پرېښې دي او د دنیا نه تلي دي چې اَلْاَمَان وَالْحَفِیْظ لیکونکو د دوئ مثالونه قدرې لیکلې دي چې فلانکے دومره

لوئي شاعر وو، دومره دومره کلامونه ئې ليکلي دي، نعتونه ئې هم وئيلي خو دا غلطه خبره ئې ليکلې ده.❀اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما د ټولو ليکونو [يعني ليکلے شوي کتابونو او رسالو]شرعي تفتيش کيږي تر دې پورې چې زه خپل پمفلټ هم ليکم نو د هغې شرعي تفتيش کووم، چې شعرونه ليکم نو د هغې شرعي او فَنِّي دواړه تفتيشونه کووم، اللّٰه پاک دې مونږ ليکلو کښې د ځان د ميني او رياکارئ او شرعي او اخلاقي غلطيانو د آفتونو نه بچ کړي او صرف د هغه خبرو د ليکلو توفيق راکړي کوم چې د هغه د رضا سبب جوړ شي.(1)

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(ماہنامه فيضانِ مدينه جولائی 2021)

## د دعوتِ اسلامي به څه کيږي!

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت عَلَّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عَطَّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مدني مذاکره (15 شعبانُ المُعَظَّم 1440 ھ بمطابق 20اپريل2019 ء) کښې پوښتنه اوشوه چې بعضې خلق وائي:"تر څو چې تاسو (يعني اميرِ اهلِسنَّت) موجود ئې تر هغه وخته پورې



[1]... دا مضمون د 6 رمضان المُبارک 1442ھ د شپې مطابق د 18 اپريل 2021ء د تراويح د لمُونځ نه پس د شوې مدني مذاکرې په مرسته جوړ کړے شو او اميرِاهلسُنَّتدَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته اوښودلے شو او د ضرورت په طور د ترميم کولو نه پس پيش کولے شي-

به دعوتِ اسلامي صحيح روانه وي، د دې نه پس به نګران صاحبان او اراکينِ شوریٰ وغيره ټول خواره واره شي او بيا پته نه لګي چې څه به کيږي! د دې څه حقيقت دے؟" هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه جواب کښې اوفرمائيل: بعضې خلق دا ګڼړي چې زما د مرګ نه پس به دعوتِ اسلامي ختم شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! داسې به نه کيږي.اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د خپل اولاد او د ټول دعوتِ اسلامي والؤ ته د مرکزي مجلسِ شوریٰ د اطاعت کولو تاکيد کړے دے او بيا بيا مې مدني مذاکرو کښې او د لويو لويو شپو په اجتماعاتو کښې دا اعلانات هم کړي دي چې مونږ ته دعوتِ اسلامي کښې د مرکزي مجلسِ شوریٰ لاندې مدني کار کول دي، د مرکزي مجلسِ شوریٰ مخالفت نه دي کول. دعوتِ اسلامي څه دکان يا تَرکه (يعني وِراثت) نه دے کوم چې به زما د مرګ نه پس زما اولاد کښې تقسيميږي بلکه دعوتِ اسلامي کښې چې څوک کار کوي هغوئې ته سلام دے. د اللّٰه په فضل او کرم مرکزي مجلسِ شوریٰ کار کوي او دا کار به هم دغه شان جاري وي.ټول به مري که چرې د چا په حق رسيدو د دين کار اودريدلے نو د کائنات د ټولو لوئ هستئ د چا په وجه چې مونږ ته اسلام ميلاؤ شو يعني زمونږ د مکي مدني آقاصَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري پرده کيدلو باوجود د دين کار اونه دريدو نو د الياس قادري څه حساب دے! د هغه په مرګ به څه کيږي! څوک چې زما د پاره کار کوي د نن نه د هغه په مخه ښه! او

څوک چې د الله د پاره د دین کار کوي هغوئي دې نن هم کوي او زما د مرګ نه پس دې هم کوي. دا سوچ مه کوئ چې الیاس قادري لاړ شي نو داسې به کیږي یا د الیاس قادري نه پس به څه کیږي؟ دا ټولې شیطاني وسوسې دي، د دې نه مونږ ټولو ته ځان بچ کول دي. په ژوند کښې خو هم څه کیدے شي، داسې ډېر تحریکونه وي چې د هغې مشران ژوندي او صحت مند وي خو د هغوئي تحریکونه ختمیږي. دا زما وصیت دے چې زما د مرګ نه پس هم تاسو د دعوتِ اسلامي مرکزي مجلسِ شوریٰ ته وده ورکړئ. څوک چې څنګه غواړي هغه شان دې د دعوتِ اسلامي په ذریعه د دین خدمت اوکړي، د مرکزي مجلسِ شوریٰ سره چرې هم غداري مه کوئ او څوک چې د مرکزي مجلسِ شوریٰ مخالفت اوکړي د هغه ملګرتیا هم مه کوئ. الله پاک دې د خیانت کوونکو د بد نظرئ نه زما دعوتِ اسلامي، زما د دعوتِ اسلامي والا او په ما ګرانه مرکزي مجلسِ شوریٰ محفوظ کړي او دوئي ټولو ته دې د اِخلاص سره د دین پوره خدمت کولو سعادت نصیب کړي.اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(ماہنامہ فیضانِ مدینہ شوال المکرم 1440)

## زما ګیره څنګه راغله؟ (حکایت)

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت عَلَّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ فرمائي: د ډېرو کلونو زړه

واقعه ده، د بابُ الاسلام (سندھ، پاکستان) يو ښار ”نواب شاه“ کښې د يو 17 کلن اسلامي ورور د ګنړې ګيرې ليدلو سره ما حيرانتيا څرګنده کړه، په دې هغه انکشاف اوکړو چې ما به په مخ د ګډې پيړ لګول. ما مارچ کال 2017 کښې د هغه اسلامي ورور سره رابطه اوکړه او تصديق مې اوکړو نو هغه اووئيل:تاسو چې کله کال 1993. 94 کښې ”نواب شاه“ ته راغلي وئ، دلته د هغه وخت واقعه ده، اوس زما عمر 41 کاله دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه!زه د لسو کالو عمر کښې مدني ماحول کښې راغلے وو او عمامه شريفه مې هم په سر کړې وه. زما ګيره نه راختله، زمونږ کور ته به يو کَس د پئيو راوړو په غرض راتلو، مونږ به هغه ته ”چاچا حاجي“ وئيلو. هغه چې زه په عمامه شريفه کښې اوليدلم نو ډير خوشحاله شو او اوئې وئيل: ته د چيلۍ يا د ګډې کچه پيړ په مخ لګوه. اِن شاءَ الله ګيره به دې راوخيژي. نو ما اووئيل چې پيړ راله هم ته راوړه. چې کله به هغه د چيلۍ يا د ګډې پيړ راوړل، ما به د اوده کيدو نه مخکښې د ګيرې راختو په ځائے لګول او چې کله به د سحر لمَانځه له پاڅيدم نو مخ به مې وينځلو. ما ډير ځل داسې اوکړه او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د پئيو لګولو سره آخر زما ګيره هم راوختله او ګنړه هم شوه.(ماہنامہ فیضانِ مدینہ رجب المرجب 1438)

## د الله پاک نه عافيت غواړئ

د کرورونو حَنبليانو پيشوا حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

فرمائي چې ما به قرآن کريم يادولو، بيا چې کله علمِ حديث ته مائل شوم نو دې علم کښې زما مشغولتيا زياته شوه او ما خپل ځان ته اووئيل چې قرآن پاک به کله يادوې؟ نو ما د خپل ربّ نه سوال اوکړو يا الله! د قرآن حفظ کولو سعادت راعطا کړه او په ما احسان اوکړه. خو هغه وخت ما د ”عافيت“ الفاظ نه وو وئيلي، (دعا خو قبوله شوه خو د هغې د قبليدو شکل دا جوړ شو) چې کله زه قيد کړے شوم نو هغه وخت ما قرآن کريم ياد کړو. ځکه چې کله تاسو د الله پاک نه د يو حاجت سوال کوئ نو ورسره عافيت هم غواړئ.

اے عاشقان رسول! د عافيت مطلب دے سلامتيا. ځکه، د مثال په طور د الله پاک نه د نوکرئ د پاره دُعا کول وي نو داسې دُعا کوئ چې يا الله پاکه! که فلانکے نوکري زما په حق کښې غوره وي نو ما له د عافيت او سلامتيا سره هغه نوکري راکړه.

د ربّ کريم نه صرف د عافيت غوښتلو د اهميت په باره کښې د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 4 فرامين: **(1)** د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې يو کَس حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اے د الله رسوله! د ټولو نه افضله دعا کومه يوه ده؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د خپل ربّ نه عافيت او د دنيا او آخرت خير غواړه. په بله ورځ هغه بيا حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اے د الله رسوله! د ټولو نه افضله دُعا کومه

يوه ده؟ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې په مثال(يعني په وړومبۍ ورځ ئې كوم جواب فرمائيلے وو هغه شان) جواب اوفرمائيلو. هغه کَس په دريمه ورځ حاضر شو او بيا ئې هغه پوښتنه اوکړه، رسول رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا هغه شان جواب ارشاد اوفرمائيلو: چې تاته په دنيا او آخرت كښې عافيت ميلاؤ شي نو ته كامياب شوې.(ترمذی، 5/305، حديث:3523)(2) د الله پاک نه د عافيت سوال كول د هغه ډير خوښ دي.(ترمذی،5/306، حديث:3526) (3) د الله پاک نه د عَفو او عافيت سوال كوئ ځكه چې يقين (يعني ايمان او دين كښې د پوهې) نه پس چاته د عافيت نه غوره بل يو څيز نه دے وركړے شوے.(ترمذی، 5/327، حديث:3569.مرقاة المفاتيح.5/349)(4) بنده د دي (دعا): ''اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَسْئَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ''(يعني اے الله! زه ستا نه دنيا او آخرت كښې د عافيت سوال كووم) نه غوره دعا نه غواړي.(ابن ماجه، 4/273،حديث:3851)

حكيمُ الْاُمّت مفتي احمديار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مُعافات كښې د جسماني، روحاني، نفساني، شيطاني ټولو آفتونو نه سلامتيا شامله ده. صوفيائے كرام فرمائي چې عافيت په هغې كښې دے په كوم كښې چې رب رضا شي، ځكه د رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خيبر كښې زهر خوړل، د فاروقِ اعظم د مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مُصَلّٰے خنجر خوړل او شهيد كيدل، د عثمانِ غني د قرآن پاک لوستو په وخت ذبح كيدل، د امامِ

حسين لويه بے مثاله قرباني عافيت وو. ځکه د ربِّ کريم نه هغه عافيت غوارړئ کوم چې د هغه په علم کښې زمونږ د پاره عافيت دے هغه نه کوم چې زمونږ په علم کښې زمونږ د پاره عافيت وي. (مراۃ المناجیح، 297/3، 74/4) الله پاک دې مونږ ته په دوارړو جهانونو کښې عافيت او سلامتيا رانصيب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(ماہنامه فيضانِ مدينه دسمبر2021)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کېدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com